# اې خلكو، په دین کې له افراطیت څخه ځان وساتئ، په حقیقت کې ستاسو څخه مخکې خلک په دین کې د افراطیت له امله هلاک شوي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وایې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د عقبه جمرې (لويې جمرې) په سهار په داسې حال کې چې په اوښ سپور و وفرمایل: «ماته تيږې/ګيټ راټولې کړه» نو ما ورته اووه کاڼي/ګيټي راټول کړل، نو هغه په ورغوو کې ومروړل او ويې ویيل: «د دې په څېر، په کاڼو ویشتل وکړئ ." بیا يې وفرمایل: «د دې په شان کاڼو باندې ئې و وولئ» بیا ئې وفرمایل: «اې خلکو، په دین کې له افراطیت څخه ځان وساتئ، په حقیقت کې ستاسو څخه مخکې خلک په دین کې د افراطیت له امله هلاک شوي دي».
[صحيح دی] [ابن ماجه، النسائي او احمد روایت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په حجة الوداع کې د قربان په ورځ د جمرة العقبې د ویشتلو په سهار و. نو امر يې ورته وکړ چې کنکرې/ګیټ ورته راټولې کړي، نو هغه ورته اووه کنکرې راټولې کړې چې حجم يې د نخود یا چڼې په اندازه و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې ونیولې بیا يې وښوځولې او ويې ویيل: د دې په اندازه (ګیټو) ویشتل وکړئ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له افراطیت، تشدد او په دیني چارو کې له حد څخه د اوړېدلو په اړه خبرداری ورکړ (او ويې ويیل:) پخواني امتونه په دین کې له حد څخه په تجاوز، افراطیت او تشدد له امله تباه شوي دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3395

النجـاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee